**مطبوعاتي اعلاميه**

# د شانګهای سازمان غړي؛ تروريستي دولتونه چې په افغانستان کې د تروریزم پر وړاندې د جګړې ادعا لري!

«د سیمه‌ییز تروریزم پر وړاندې د مبارزې بنسټ» په نامه د شانګهای همکاریو سازمان یوې ادارې د اکتوبر په ۱۴مه د جمعې په ورځ په نوي ډهلي کې په همدې موخه ناسته وکړه. د دغې ناستې په پایله کې د دغه سازمان یو شمېر غړو په افغانستان کې له «تروریزم سره د مبارزې» په موخه د مشترکو اقداماتو لپاره د همکارۍ سند لاسلیک کړ.

دا په داسې حال کې ده چې له ۲۰۰۱ کال څخه وروسته د تروریزم (د اسلام او مسلمانانو) پر وړاندې د غربي نړۍ جګړه له شرموونکې ماتې سره مخ شوې، خو اوس هر دولت د خپلو ګټو پر اساس تروریزم تعریفوي او پر خپل دښمن باندې د تروریزم یا یې د ملاتړي ټاپه وهي. په اکسفورډ قاموس کې تروریزم داسې تعریف شوی دی: «تروریزم د سیاسي موخو لپاره له ځواک څخه ناقانونه استفاده، تاوتریخوالی او وېره خپرول دي، په ځانګړي ډول د غیر نظامیانو پر وړاندې». د دغه تعریف پر اساس د شانګهای کنفرانس غړي هېوادونه پخپله تروریستي هېوادونه دي.

د شرقي ترکستان له مسلمانانو سره د چین د تروریستي دولت چلند، چې خاوره یې اشغال شوې او یوازې د دې لپاره رېږول کېږي چې مسلمانان دي. د هندوتوا خوځښت او د مودي هندوپاله دولت چې کشمیر یې اشغال کړی او پر هندي مسلمانانو هر ډول ظلم روا ګڼي. د پاکستان دولت چې د بلوڅانو او پښتنو په سیمو کې پر مسلمانانو تېری کوي او د خپلو ګټو لپاره له سترو قدرتونو په ځانګړي ډول امریکا سره د مسلمانانو په وژلو کې همکاري کوي، د امریکایي بې پیلوټه الوتکو لپاره یې خپلې هوايي لارې پرانیستي او له سترو قدرتونو سره په افغانستان کې د استخباراتي بریدونو په ترسره کولو کې مرسته کوي. همدا ډول د ایران دولت چې د سوریې، عراق او یمن مسلمانان یې له خاورو سره خاورې کړل، په افغانستان او عراق کې یې د امریکا او ناټو له ترور او وحشت سره همکاري وکړه او په کور دننه د خپلې بقا لپاره خپل اتباع په مختلفو اسالیبو او وسایلو ترور کوي او وحشت پرې کوي. د روسیې دولت هم په سوریه کې سلګونه زره مسلمانان په شهادت ورسول او د چیچنیا او منځنۍ اسیا مسلمانان یې تر اوسه تر ظلم لاندې ساتلي. د منځنۍ اسیا هېوادونه هم ارام نه دي ناست او د مسلمانانو او اسلامي خوځښتونو په شکنجه کولو او له منځه وړلو کې له خپل بادار سره یو موټی دي.

خو د دغو دولتونو تصمیمونه، مکرونه او حیلې به هېڅکله ثمر ته ونه رسېږي، ځکه له یوه اړخه د دغه سازمان واقعیت داسې دی چې غړي یې په سیاسي لحاظ یو موټی نه دي او یو له بل سره سیالي او رقابت لري. له بله اړخه د تروریستي دولتونو دا ډول همکاري پر دې دلالت کوي چې دوی په سیمه کې د ځواکمن اسلامي دولت له ظهور څخه اندېښمن دي او غواړي په دا ډول تصیمونو سره یې د ظهور مخه ونیسي. خو دوی باید له تاریخه زده‌کړه وکړي، چې د حق او باطل تر منځ جګړه کې حق تل بریالی کېږي او باطل له منځه ځي.

موږ په دې باور یو چې په نړۍ کې تر بل هر ځای د افغانستان، پاکستان او منځنۍ اسیا په سیمه کې اسلامي بیداري ډېره شوې او د مسلمانانو د وحدت او د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس شونتیا ډېره شوې ده؛ چې د دغو هېوادونو اندېښنه هم له همدې ټکي سرچینه اخلي. دغه دولتونه غواړي چې په خپلو کمزورو اقداماتو سره د دغې سترې څپې مخه ډب کړي، خو د بیدارۍ دغه څپه دومره ستره او ژوره ده چې د دغو قاتلو او وحشي دولتونو د حاکمیت فرصت یې حد اقل ته رسولی دی. انشاء الله ډېر ژر به د سیمې مسلمانان د دغو دولتونو له ظلمه خلاص شي او د نبوت پر منهج د راشده خلافت دولت په تاسیس سره به خوښ شي.

**﴿لِلَّهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِن بَعْدُ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

د تېرو او راتلونکو ټولو چارو واک له الله سره دی. او په هغه ورځ به مومنان د الله په مرسته (د یوې بلې سترې بریا په خاطر) خوشاله شي. الله سبحانه و تعالی له هر چا سره چې خوښه یې شي، مرسته کوي او هغه (پر خپلو دښمنانو) برلاسی او (پر خپلو دوستانو) ډېر مهربان دی.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**